# شاعر: محترم ملنګ جان

## یو څو ډیزائن شوي شعرونه



ستاسو دوعاګانو په هیله یم

(ځواني سره شهرت)

ځواني سره شهرت د ننګ او نام مزه کوي
تر په لار د قوم په وینو رنګ مزه کوي

یا ژوند د خپلواکۍ ښه دی یا مرګ د شرافت
میدان کې د سرباز د توري شرنګ مزه کوي

که ژوند ابدي غواړې د خپل قوم په مخ کې مره شې
بیرغ د شهیدانو رنګارنګ مزه کوي

ځوانان ښایي په توره چې د ننګ توره په ملا کې
د پېغلو په سینو لاچي لونګ مزه کوي

چې واک یې د پردو وي که قبا یې وي د زرو
د هغه نه زور کند د یو ملنګ مزه کوي

د ځان غوښې کړه ویلې قوم وینې کړه ملنګ جانه

دا ستا غوښې وریتې لکه پتنګ مزه کوي

(ځوانۍ سره شهرت)

ځوانۍ ســــــره شهرت د ننګ او نام مزه کوي
ټټر په لار د قوم پـــــه وینــــو رنګ مزه کوي

یا ژوند د خپلواکۍ ښه دی یا مـــــرګ د شرافت
میدان کې د سرباز د تــــوري شرنګ مزه کوي

که ژوند ابدي غواړئ د خپل قوم په مخ کې مړه شئ
بیـــــــرغ د شهـــیدانو رنګارنګ مزه کوي

ځوانان ښایي په توره چې د ننګ توره په ملا کي
د پېغلو په ســینو لاچـــــي لونګ مزه کوي

چــې واک یې د پردو وي که قبا یـې وي د زرو
د هغـــــــه نه زوړ کـند د یو ملنګ مزه کوي

د ځان غوښې کړه ویلې قوم ویښ کړه ملنګ جانه

دا ستا غوښـــــــې وریتې لکه پتنګ مزه کوي

(ملنګ جان)

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group
ستاسو دوعاګانو په هیله یم

(که په حال زما)

که په حال زما خبـــــر تمام جهان شي

ټول عالم به په فریاد ان په سوران شي

لکه زه چې داسې زیړ زیبښـــلی ګرځم

هر بشر به داسې زیړ لکه زعفران شي

زه رټلی معشوقو یم نـــه رغــــــیږم

که عالم رانه د خیرمې حکیـــمان شي

که څوک ما منع کوي د یـــــار له دره

د ماهي په وچې څه رنګه ګــذران شي

تسلي زما د ســـــــوي زړګي دا ده

یوځل کله به ښکاره د یار چشــمان شي

د یار مخ ته منتظر زه ملنـــګ جان یم

چې زما د خوږ زړګي پورې درمان شي

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(هر ګز مه وایه )

هرګز مه وایه هر هر ګل تـــــــــه رامبېل

چې اصیل وي هله جـوړ کــــــړه ترې امېل

خوند او بوی وي د هـرې مېــــوې بېل بېل

په بکیانی کې خوند نشـته دی د هېــــــــل

زیړ غوړي خوره چې بدن دې پرې صحت وي

ته پر ځای د زیړ غوړو مه خـــوره تور تېل

فرق د سرو او جستــو وکړه ( ملنګ جانه )

کوټ بنـــګال پیـــــروزه مه ګڼه یو خېل

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

(ملنګ شم)

زه چې راخلـمه کچکول او ستـــا ملنګ شم

نو هغه ساعت به تیر تـــــر نام و ننګ  شم

نام و ننګ به وي هغـــــه ځای را نه  پاتې

په کوم ځای کې چې زه ستا په تومت رنګ شم

پروا نشته که دنیا را پوري خـــــــاندي

ماشـــوم نه یم چې نور و خاندې زه تنګ شم

ستا په عشق کې که ستــــی شمه په اور کې

فخر کـــــــاندم که زه یاد لکه پتنګ شم

ما چې عزم ستا د سپین رخسار دی کــــړی

وا به نه وړم که په وینو کـــې رنګ رنګ شم

په شا تلـــل د مـــیړنیـــو بد نامـــــي ده

اوس به زه ملنګ جان څرنګه په څنګ شـــم

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(د معارف ترانه)

د انسانانو فضیلت عـــــــلم و عرفان دی ورونو

شرف د ځان دی ورونو

علم یو کان دی په کانونو بـــــــې بها یې مثال

هر څه چې غواړې فی الحال

پکې موجود پراته اصیل درو مـــــــرجان دي ورنو

شرف د ځان دی ورونو

علـــــم یو باغ دی باثمر تروتــــــــــازه وی مدام

لري تر عمره دوام

خالق ساتلی له زوال او له خــــــزان دی ورونـــو

شرف د ځان دی ورونو

پوهه دارو ده د صحت که چا تری نوش کـــړ یو جام

هغه به تل وي نیک نام

خو ند د کباب خوند د شراب ورته حیــران دی ورونو

شرف د ځان دی ورونو

تعریف د علم نه خلاصیږي که څوک ستړی کړي ځان

صفت یې ډیر دی بی شان

دا څو مثاله نشـــــــــر کړي ملنک جان دي ورونو

شرف د ځان دی ورونو

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(تر کومه؟)

بې بازخواست او بې پرســــان به یم تر کومه؟
سر سرتور ځیری گـــرېوان بـــه یم تر کومه؟

په نارو مې ستونی وچ شـــو څوک یې نآوري
د کانه بــــادار دهقــــان به یم تر کومه؟

زما مخ د بل څپېړې به تــــر څـــو وي؟
په سلګو او په جان جان به یـــم تر کومه؟

د وطن خدمت دپاره وزګار نــــــه شوم
خدمتـــــګار د هر یو خان به یم تـــر کومه؟

په کـــــرلو او رېبــــلو یې پوهیږم
نالایق د دسترخوان بـــــــه یم تر کومه؟

په قیـــــامت کې به د ډېرو ګرېوان نیسم
خوف نه ګونګ زه ( ملنګ جان) به یم تر کومه؟

(تو لعنت په هغه چا شه)

تو لعنت په هغه چـــا شه چې په قام ســوداګري کا

د پنځوییســـــودپاره د اغیـــارو نوکـــــري کا

بله نشته هســـــي لـــــویه مرتبه لـــه آزادۍ نه

چې مې واك د بل په لاس وي په دې څه که افسري کا

خدایه هسی زوی لوی نه کړې د پښتون په کورنۍ کې

چې له ننګه بې خبر وي او دښـــمن پرې باداري کا

هغه سر به بختور وي چې د قام مخکې شي خـــاورې

څکه کام یې پس له مرګـــه په مزار جمـــع اوري کا

قربانیږه ملنګ جـــانه د هغـــو خلکـــو له زړونه

چې د قام له مینې ډک وي د هیواد خیــل غمخوري کا

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(د چشمانو مې)

د چشمانو مې بهيږي نن خـــــوناب

چـــــې مې حال د زمانې وليد خراب

صداقت او ننگ ناموس دنيا نه ورک شو

هر ســــــړی خوځوي ژبه په کذاب

د ساداتو سالکانو عـــــزت ورک شو

عـزتمن دي چې لـــــري چنگ و رباب

هيڅ صفـــت به د عالم چيرې وانه ورې

د پيمخو صفـــت کيږي بې حســــاب

شان پوشان د زمـــانې کرځي ښرې کې

د ښرې خاوندان اغــــوندي کمخواب

دا گــــــردش د زمانې دی ملنگ جانه

کارغه ناست دی په چگس باز په تراب

(ملنگ جان)

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

ستاسو دوعاګانو په هيله يم

(څه ملامت دي)

مشران چې گونديمار شي نو کشران څه ملامـــت دي
سپين ږيري  چې نا اهل شي  هلکان څه ملامـــت  دي

د پوهـــــوعالمـانوپه منځوکــې چـــې نفاق وي
ناپوهه بېســــــواده شودهگان څـــــه لامـت دي

چـــې زړه د ناصــحانو وي ډك شـوى لـه  حسـد نه
وبناكـــــې تاثـير نه وى  سـامعان څه مـلامت دي

کوښښ چې يوپښتون  دبل  پښتون د بـــــري نه کا
په  دې کار كــې پردي او گـــاونديان  څه ملامت دي

بيناخلـــــك چې مخ شـي د  نفــاق   په گـړنگونو
گيله وکړم له چا نه حافظــــان څــــه  مـلامـــت  دي

ريښتني  پښتانه لـــوى  خـــادمـان اوسليـم زړونه
دا ټول  چې يو شان  نه وي  مــلنگان څه ملامت دي

ريښتيا وينا دې وکړه خداى دې خير کړي ملنگ جانه
که هــر څه درته پيښ شوو ستـــا ياران څه ملامت دي ؟

(ملنگ جان)

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(سر مې جار ستا له نامه)

سر مې جـــــار ستا له نامه پښتونستانه
ستا نوم مې نقش شـــوی په ځيـــگر دی
پښتانه به ژوندون څـــه کـــري بې له تانه
هر يو ايښـــي ستـــا په مينه مال وسر دی
سر مې جـــــارشه ستا د لوړو لوړو غرونه
له غيـــــرته چې هر يو جګ تر اسمان دی
صدقه شـــــم ستا د ګـــــرانو پښتنو نه
چې منلـــــى ستا خدمت په ټينګ ايمان دی
دښمن کلـــــه برى ورى شي له هغـــو نه
که هر څو مـــکر و فريب کې پهـلوان دی
ميرنو ګــــويا ښــــکاره کړ لـــه ميـرانه
ځکه سور بيرغ هــــر ځاى کې لــروبــر دی
په هر ځـــــاى کې چې اصيل پښتون زاده وي
خاص الخـــاص پښتونستان له خدايه غواړي
هغـــه څوک چې بې غيـــرت حرامزاده وي
تيتـــې سترګې به د بل لـــــور ته ولاړ وي
اولاده بـــه يې پس له مرګه شـــرمنده وي
د وګړو د پيـــــــغور ځنې بـــه ژاړي

خپـل اولاد ته پيغـــور نه پريږدي له ځانه
هغه څوک چې د سوچه پښتون پـــسر وي
نارينه توب د پښتـــــنو طبـعي عادت دی
بلې بلې چې رښتيا ســـــره پښتون وي
دوى لــــيدلي د ازاد ژونـــدون لذت دی
مرګ يې بولي چې محکوم د دوى ژوندون وي
څه ناڅه که يې په کور کـــــې عداوت دی
خو دښمن د پاره بيـــــا په يو تـرون وي
پښتون نه دی په شــــــا تللی له ميدانه
ټول جهان و ته ښکاره لکه د لمـــــر دی
چې خپل واک او اقتدار يـــې د ځان نه وي
که نــواب وي صدقه شه مــــا ملنګ نه
عـــــاجزى کې څه پروا د انسان نـه وي
خـــداى دې مانه کړي عاجز له نام و ننګ نه
چـــې په مال و سر ايسار په ميدان نه وي
جـــار قربان شه د پښتون د توري شرنګ نه
خـــو زما ملنګ جان زره دې پرې روښانه
نـــن د هر ظلمي په لاس د ننګ خنجر دی

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هيله يم

(څه غواړم؟)

زه په دنیا کې د دنیا نه عدالت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتـــــیا انسانیت غواړمه

د خدای د پاره وکړئ غور مســلمان پښتون یم

کلک با ایمان پښتون یم

دا ګناه نه ده چې خپل ملک او شریعت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

د بل بارونه په دنیا کې خو ډنګر چلوي

نه چې بشر چلوي

زه څاروی نه یم پردو پیټو نه نفرت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

ځمکه د خدای ده په کې برخه هر یو قام لري

هر څوک خپل سام لري

له ما یې بل څوک ولې واخلي حقیقت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

همت لرم بې همت نه یم خو نزاع نه غواړم

شور په دنیا نه غواړم

جګړه نه غواړم په دنیا کې امنیت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیـــت غواړمه

زلمیانو واورئ فریادونه د دردمن ملنګ جان

د لوغړن ملنګ جان

پښتنو تاسو نه یوالی او وحدت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انســانیت غواړمه

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

(څه غواړم؟)

زه په دنیا کې د دنیا نه عدالت غواړمه
زوی د انسان یم په ریښتـــــیا انسانیت غواړمه

د خدای د پاره وکړئ غور مســلمان پښتون یم
کلک با ایمان پښتون یم

دا گناه نه ده چې خپل ملک او شریعت غواړمه
زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

د بل بارونه په دنیا کې خو دنگر چلوي
نه چې بشر چلوي

زه څاروی نه یم پردو پیټو نه نفرت غواړمه
زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه
ځمکه د خدای ده په کې برخه هر یو قام لري
هر څوک خپل سام لري
له ما یې بل څوک ولې واخلي حقیقت غواړمه
زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

همت لرم بې همت نه یم خو نزاع نه غواړم
شور په دنیا نه غواړم
جګړه نه غواړم په دنیا کې امنیت غواړمه
زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیـــت غواړمه

زلمیانو واورئ فریادونه د دردمن ملنګ جان
د لوغړن ملنګ جان

پښتنو تاسو نه یوالی او وحدت غواړمه
زوی د انسان یم په ریښتیا انســانیت غواړمه

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

(نفسونه شول غالب)

نفسونه شول غالب ددې غمه ژړېږم
بې کاره بې تعلیمه راته پاتې خپل اولاد شو
پښتون غریب برباد شو
نسونه مخالف شول خیالونه مختلف شول
د کور بغض او حسد مونږ لره نه دی مناسب
نفسونه شول غالب
هر څوک ګټه د ځان کړي، وطن به څوک اباد کړي
د قوم مینه د زړونو نه بهر شوه ښه پوهېږم
ددې غمه ژړېږم
ملک صاحب دې جوړوي، په ګېډه دې دی موړ وي
د خوار او د غریب پوښتنه نشته څه فساد شو
پښتون غریب برباد شو
سید پخپل سیادت، د ځان غواړي عزت
قسم دې ما ونه لید د وطن د خیر طالب
نفسونه شول غالب
څوک میا او څوک ملا شول، د کسب نه تېرا شول
وایي کسب و کمال څه کرم شکرانو باندې مرېږم
له دې غمه ژړېږم
نه ننګ شته نه غیرت، نه خاورې ته خدمت
نن وګوره دنیا ته هر ملت سر په مراد شو
پښتون غریب برباد شو
ګوندې او عداوت، په مونږ کې شو عادت
دوستي او شفقت په پښتو کې شو غایب
نفسونه شول غالب

څوک وایي چې زه خان یم، معروف په کل جهان یم
هستې دولت مې دیر دی په خدمت باندې شرمیږم
له دې غمه ژړېږم
دا خان نه دی خاین دی، پخپل ځان چې مین دی
هیڅ غم د وطن نه خوري چې یو ځل یې نس اباد شو
پښتون غریب برباد شو
که حق وایم ویریږم، که نه وایم پرسیږم
د ځینو کارکنانو کار وي ور د تعجب
نفسونه شول غالب
په ځای د عدالت ، ما وه لید تجارت
له غمه شم ترور یو نیم مامور نه چې خبریږم
له دې غمه ژړېږم
خاونده مونږ اصلا کړې، دنیا کې سربالا کړې
دیر غله د خپل کاله دي هر سړی مل د فساد شو
پښتون غریب برباد شو
پښتونه وروره واوره، نیکونو نه دا خاوره
ده مونږ ته سپارل شوې یې غافل په څه سبب
نفسونه شول غالب
دد خاورې خدمت، کوی په صداقت
د کور په ځانځانی له باندنو خلکو شرمیږم
له دې غمه ژړېږم
رښتیا رښتیا به وایم، چې څو په دې دنیا یم
مجبور دی "ملنګ جان" له دیره غمه په فریاد شو
پښتون غریب برباد شو

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

(زلمیان)

نن زلمیان د پـــــښتنو تجربه کېږي
تماشـــو له يــې ولاړ دی تول جهان
دا یادګار به تـــر قیامتـــه پاتې کېږي
مېړنیه دا دی وخــت دی د مېـــدان
نن زلمیـــــان د پښتنو په جوش راغلي
ګوښي ګوښي لکه مست زمری غورېږي
د همت توري لاســـونو کې نیولې
د پټنګ غوندې پـــه سرو لمبو غور ځېږي
سمه غــــــر واړه ځېرمې خوځېدلی
سین په خس او په خاشـــاک کله بندېږي
د هریو وینه رګـــونو کې اېـــشېږي
د رنو تورو به جـــوړ کاندي بـــاران
یا به د روح او تـــن سره دېر ګران شي
یا به جوړ کړي مســـتقل پښتونستان
بېلول د روح او تن سره دېـــر ګران شي
ازادي او ښتانه دې روح او ځـــــان
نه به ځمکې ته کوز ستوري د اسمان شي
نه پښتـــون به د بل چا شي غلامان
هر هم جنس د خپل هم جنس سره جوړېږي
چېـــرته ګل چېرته بلبل چېرته زاغان
پښـــتانه دخپلې خاورې پتنګان دي
پتنګ نه کـــوي د شمعې ځنې ځنګ
نه وېرېږي له غلـــیمه ســـربازان دي

خـــدای ورکړي خزانه د نام و ننګ
به جـــګرو کې آزمـوده پهلوانان دي
مخـــامخ ځي که کوهي وي یا ګړنګ
وزی نامـــه د ازادۍ نه قـــربانېږي
دا د ستـــور دی په دنیا کې د افغان
ای پښتـــونه پلار نیکه ته دې لار ورکړه
دا کـــېږي جنـدې پرې چا دي ودرولې
ته هم نر شه سر ومال په دې لار ورکـره
د همـــت توره دې تینګه کړه په ولي
احمـــدشاه بابا کیسو نه ځان خبر کړه
دښـــمنان یې دي تر کومه زغلولي
خو زما ملنګ جان سترګې نه غـــرېږي
اديـــــرې ته کتی نه شم په هیڅ شان

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

Greater Afghan Library

(څه لرمه چې د خدای)

څه لرمه چې د خدای په نـــوم یې ورکړم
چې طبیت د خان صاحب پــــرې برابر کړم

په زر درېزره جـــریمه قانـــــع نه دی
مناسب وي چې یو چرګ ورمیـــــسر کړم

زما وړې نس ته نه ګوري خـــان غواړي
یه یارانو سلا راکـړئ څـــه هنـــر کړم

په سلام او په ځار ځار نه پخـــلا کیـږي
سل ګیز نشته چې له جئبـــــه یې بهر کړم

نن سبا به یې تر لښتو لانـــدې مـــړ شم
اوس باید چې کور او کلی پــرې خبـــر کړم

زه چې خدای کړم د هر چا ګزار ته نـښــه
څـــــه ګیله به د غریب او زورور کـــړم

نن به زه ( ملنګ جان ) صبر نه کار واخلم
خپل فریاد به پاک الله ته په محـــــشر کړم

**(ملنګ جان)**

Greater Afghan Library

**ستاسو دوعاګانو په هیله یم**

Greater Afghan Library

حا ل احوال د شاوخوا چې را بر سیر شو

کربـــلا او یزید دواړه   را نه هیـــــر شو

خدایه دا څنګه اســـلام څنګه امت دی

ماشومان تور سرې وژني دا حالـت دی

هغه څوک چې په ریښتیا د پښتون زوی وي

او ریښتیا د پښتنې په غیږ کـــې لوی وي

خوب خندا به کــــړي په ځان پورې حــــرام

څو وانخـــــــلي لـه غـلیمه انتـقـــام

خو زمــا ملنګ جان دا سوې مســــرې دي

مسرې څه چې تول د غـــم سوې نارې دي

حقیقت کـــې نه چاربیته نه غــــــزل دی

محض غـم د خپل وطن را سره مـــل دی

دغه غم مې په زړګــــي ایښي داغـــونه

د افسوس اوښکـــې مې ځي لکه رودونه

په ملهــم د خپـــلواکۍ به ورغیـــــږي

ظالمــــان زمـــا په حق نه قانع کیــــږي

(ملنګ جان)

ستاسو دوعاګانو په هیله یم

(د افسوس اوښکی می څي)

د افسوس اوښکې مې څي له رودونه

دم په دم مې د خولې خيژئ فريادونه

ميراثه د پلار نيکه مې لاندې ميږي

ظالمان زما په حق نه قانع کيږي

د افسوس اوښکې مې څي لکه باران

په ژوندون مې ميراث بواي دښمنان

په حساب سره زه اته ميلونه کور يم

هسي نه چې په دنيا کې زه کمزور يم

مگر دا چې غوره کړی مې دی صبر

نه ظالـــــم يم نه په چا کومه جبر

عاقبت به مې د صبر کندول مات شي

په دنيا به بيا بـــــل اور د فساد شي

زه طالب د خپل حقوق او استقلال يم

آزادۍ په نامـــــه تير تر سرومال يم

يا به خاورې په دې لار کې خپل زلميان کړم

يا به جوړ په خپل همــــت پښتونستان کړم

ظالمــــــانو کړم بيزار زه له ژوندونه

د افسوس اوښکـــې مې څي لکه رودونه

سپک وضعيت دپښتانه کله خوښيږي

ظالمــــان زما په حق نه قانع کيږي

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

په درغو لاپې نه کوم ښکاره یم لکه لــــــــــمــــــر

دنیا کې لور په لور

دښمن باندې چې غږ کړمــــه لله اکــــــــــبر

د ځانه اخلي اور

ولجو کې مې راوړی له غلیمه ځنې سر

ښکاره دی زما زور

په منځ کې د ایشیا د قهرمان په نوم یادیږم

هر وخت مې بری وړی

یو ځل چې قیامت تیر شي خلک پاځي له قبرونه

بیا یې څوك نه شي وژلی

زه تیر یمه د شلو قیامتونو له جندرو نه

له قبره یم وتلی

پوره حساب مې ورکړ را بهر شوم له یارونه

ما خپل اجل خوړلی

صادق په خپل اقرار زه ملنگ جان صفا غږیږم

چې وایې وري وگړي

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

(پښتون یم د پښتو په لار)

پښتون یم د پښتو په لاره تل مدام جنګیږم

هیڅ نه یمه نیمګړی

چې هر کله مریض شم په جنګونو کې رغیږم

تشخیص مې د ځان کړی

له موره چې پیدا شوم زما سرته یې کیښون توره

چې دا کار به کوې ته

دادا مې را ته وویل زما د سترګو توره

وطن به دې ساتې ته

چې بیرته پاتې نه شې په میدان کې له تربوره

په مخ کې به ورځې ته

ابۍ مې را ته وې په بې ننګۍ دې خپه کیږم

ما ننګ ته یې راوړی

چې غږ د سربازۍ واورمه وینه مې په جوش شي

پاڅم په خلاصه ټنده

چې شرنګ د توري واورم هر سرود مې فرامږش شي

ورځم په منده منده

دښمن چې را ته وګوري له ویره نه بې هوش شي

بیا ژاړي لکه کونده

که د یو قدر ته غټ وي پاس په څټ یې ورسوریږم

په یو ګوزار مې وړی

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

وگورئ دنیا ته څه یې رسم څه روزګار دی

اخلـــي د خپل علم نه رقم رقم خون دونه

مینه کې ځانونه برابر کړئ د پتنګ سره

تینګ اوسئ رلمیانو د وطن له نام و ننګ سره

حق د خپل وطن زموږ په سر لکه د پور دی

ګورئ هرې خواته چې حالت د دنیا نور دی

حق د خپل وطن په ژوندانه باندې ادا کړئ

نیک نومونه پریږدئ په دنیا کې تر قیامت

دې شریفې خاورې نه ځانونه فدا کړئ

اوري په ناراست سري همیش د خدای لعنت

توره د غیرت یارانو تینګه کړئ له څنګ سره

تینګ اوسئ رلمیانو د وطن له نام و ننګ سره

نوم د ننګ غیرت زموږ په هر طرف ته تللی دی

رب دې دا نیک نوم زموږ بدل نه کړي بل شان

وګورئ نن هر دولت ته کوم ځای ته ختلی دي

موږ لکه واره لا هیڅ خبر نه یو په ځان

زړه مې د شیرین وطن په مینه داغیدلی دی

خدایه ته حافظ اوسې د ټول افغانستان

سوال د ملنګ جان ستا په درګاه درنګ په درنګ سره

تینګ اوسئ زلمیانو د وطن په نام و ننګ سره

دا فریاد په هر میدان زما په هر یو ورور دی

ګورئ خرې خواته چې حالت د دنیا نو دی

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library

(ټینګ اوسئ زلمیانو)

ټینګ اوسئ رلمیانو د وطن له نام و ننګ سره
ګورئ هرې خواته چې حالـــــت د دنیا نور دی

ټینګ اوسئ زلمیانو په خپل دین او په اسلام
توره د پښتـــــــــون په بــــــرخه شوې له ازله
موږ او تاسې واره پښتانه یاستو په قام
پام کوئ چې نه شو خارجیانو ته خجله
ټول په اتفاق دښمن نه واخلئ انتقام
داغ د دورنګۍ یارانو وباسئ له دله
زیب کوي پښتون په هر میدان د تورې شرنګ سره
ټینګ اوسئ رلمیانو د وطن له نام و ننګ سره
خپلو کې ګوندۍ یارانو موږ لره پیغور دی
ګورئ هرې خواته چې حالت د دنیا نور دی
خپلو کې ګوندۍ یارانو موږ د پاره زهر دی
څکه هر طرف مو دښمنان دي لکه غرونه
موږ له ګوندي او بغض هغو سره په کار دی
ولې په خپل کور به ماتو خپل مروندونه

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library

غم او درد زموږ شریك دی تر قیامته

خدای دې نه راوړي پښتون کې جدا والې

پښتانه سره تول یو وجود یادیږي

په هنر مو غو ځوي خلك اندامونه

په فریب د فریبکارو مه غولیږیږ

زمانه کې دي ډیر شوي غداران

د پردي جغ لاندې تیټ سرمه ځغلیږیږ

یا خو نوم د پښتون مه پریږدییږ په ځان

حیا وکړییږ خدای رسول نه وشرمیږیږ

خدای لیږلی شریعت دی هم قرآن

چې قانون د بیگانه باندې چلیږي

غواړي ورکړي پښتنو له رشوتونه

پښتنو ته رب ورکړی لوی همت دی

په میدان کې چا ته تیټ نه شي کتلی

سربازي لوړ همتي زموږ عادت دی

دا تعلیم موږ په طفلی کې دی موندلی

چې دې خاورې ته چا سپک کړی نسبت دی

سور په وینو له میدانه تښتیدلی

(ملنګ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

هر پښتون لکه خوني زمری غوریږي

نه غولیږي د مکارو په مکرونه

چې لوی شوی وي د بل په نوکرۍ کې

د پښتون سره دې نه سموي ځان

چې تر اوسه یې موړ شکي یو په پیرۍ کې

دوی خو گرځي ځان ته نیسي مریدان

عاقبت به گرفتار شي په خوارۍ کې

پښتانه به ورمعلوم کړي خپل ایمان

خو زما ملنگ جان زړه کې نه ځائیږي

چې کارغه اخلي د زرکي قدمونه

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library

( د زړه افسوس)

نن زړگی مې د بفسوس په اور سوځیږي

چې گیدړ کوي زمري باندې گواښونه

د کارغه ستړگې د بازه نه شرمیږي

په همت سره را پورته شه پښتونه

نن زړگی زما ددې غمه کباب دی

چې سرح د د پښتنو پې کړ بمبار

دا په کوم دین و مذهب په کوم کتاب دی

یې گناه مرگونه وشول وار په وار

دا پښتون ولې بې غم تللی په خواب دی

نن په یو سبا په بل دی دغه کار

ظالمان د خپله ظلمه نه دریږي

چې تر څو وربانډې تاو نه شي غوړونه

پښتنو وروړنو داځی ځای د غیرت دی

ملامو وتړئ کار واخلئ له یوالې

باقي ژوند زموږ دنیا کې خجالت دی

چې پردي په پښتنو کوي ناخوالې

(ملنگ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

یو موټی د زکات یم

بد خوا د خپل ملت به په بلا کې گرفتار کړم

له تندر څخه زیات یم

زما په نارینتوب باندې قایل دی ټول جهان

اثبات ته رسیدلی

دا زه هغه پښتون یم چې مې کسب شجاعت دی

ښکاره لکه د لمر یم

شربت د آزادۍ باندې بدن زما صحت دی

په هر میدان کې بر یم

زما مقابلې ته بیا د چا وس او طاقت دی

مضبوط پولادي غر یم

زما د توري بریښ چې چا لیدلی په چشمان

په خپله یې ځان سیزلی

هست شوی او لوی شوی یم په دار کې د اسلام

په شرعه برابر یم

نه څم د بل قانون پسې نه یم د بل غلام

د پلار نیکه پسریم

آئینه دې مخ ته ونیسه لږ ځان ته وکړه پام

له اصله دي خبر یم

د بل لاس باندې زجور شوې غولوې مسلمانان

استاد مې ستا لیدلی

(ملنګ جان)

اسونه نال کیدل چیندخ ته ودریده دا خیال

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

نالبنده ما هم نال مه

نالبند ورته ویل ته د اس نه یې سیال

کم بخته ځان سمبال مه

مه څوك بې تجربې وي د چیندخې په مثال

ضرور به ځان پایمال که

آخر به په تبۍ ورله مخ تور کړي ملنگ جان

را خوب یې دی لیدلی

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

(پښتون زوی د بابا یم)

پښتون زوی د بابا یم ولاړیم په میدان

مظبوطه ملا تړلې

په لاره د قومیت کې به خپل ځان کړمه قربان

ما سر په لاس نیولی

په لاره د قومیت کې یمه تیر تر مال وسر

دا رسم د پښتون دی

په دغه لار که مړ شم دغه مرگ گنم بهتر

آزاد زمونږ ژوندون دی

تمام پښتانه یو دي که په سمه دي که غر

پخوا نه دا تړون دی

وطن زمونږ ناموس دی په ناموس وژنو خپل ځان

ما ځان په مرگ شمیرلی

ما سر په لاس نیولی د خپل قام نه به یې نثار کړم
د قام د سر خیرات یم

په نم د خپلو وینو به دا خپل وطن گلزار کړم

(ملنگ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

خپلو حقوقو د غوښتو څخې آرام به نه شم

څو چې د تن وینې مې لاندې څڅیرلي نه وي

مقابلې ته یم حاظر له سروماله سره

زما ځواني دول کوي له پښتنواله سره

تولې دنیا ته زه په تینګ عزم خبر ورکوم

زه په پښتو او پښتنوالې باندې سر ورکوم

توپ طیاره زما همت ته اهمیت نه لري

خلک دغه چې یادوي ما ته خندا راځي

سنګر د نورو زما عزم ته طافت نه لري

هر یو غلیم مې په نظر لکه ګیا راځي

توپ او ټانکونه زما مخې ته قوت نه لري

نه په توپکو ماشینګنو څه پروا راځي

د قربانۍ میدان ته ځم زه په تکاله سره

زما ځواني دول کوي له پښتنواله سره

خپله سینه د ننګ میدان کې لکه سپر ورکوم

زه په پښتـــو او پښتنوالې باندې سر ورکوم

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryyy
@Greater Afghan Library Group

ترلې ملا جنګ ته اته مليون زلميان لرمه

هر يو زلمی زما د يو لښکر ځواب کوي

د ولس مينونه شاته غم شريکان لرمه

غليم دې خوار شي چې زما مخ کې د باب کوي

ښه اهل کار ښه غمخواران او يوه مشران لرمه

هغه به غوره کړم چې دوی را ته خطاب کوي

غليمه کور دې نژدې مه کړه له زواله سره

زما ځواني ډول کوي له پښتنواله سره

پر ځای د ډال تيغ د دښمن له خپل ټټر ورکوم

زه په پښتو او پښتنوالې باندې سر ورکوم

که د صورت وينې مې توی شي په خدمت د وطن

دا به دنيا کې يو لوړ نوم او سعادت وي زما

قربان قربان مې دا ځواني شه زرکرت له وطن

خو د وطن د استقلال دې تر قيامت وي زما

خدايه نصيب مې کړې ښه ښکلې شهادت د وطن

خپلو نيکو ته چې په ګور کې مسرت وي زما

زه ملنګ جان به هله سيال شمه له سياله سره

زما ځواني ډول کوي له پښتنواله سره

مبارکي به خپل پردي ته په بستر ورکوم

زه په پښتو او پښتنوالې باندې سر ورکوم

(ملنګ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

(زما ځوانی ډول کوي)

زما ځوانی ډول کوي له پښتو نواله سره

 زه په پښتو او پښتنوالۍ باندې سر ورکوم

زما يې خته لمده کړې د غيرت په اوبو

بې همتي لازمه نه ده زما له شانه سره

د وطن مينه مې رودلې ده د مور په شودو

اوس يې خدمت ته يم حاظر له تينګ ايمانه سره

د غيرت توره مې نيولې ده په خپلو اوږو

د سربازي ميدان له وړم توره له ځانه سره

روح مې په تن کې آسوده وي استقلاله سره

زما ځوانی ډول کوي له پښتو نواله سره

په ژوندانه کې چاته کله خپل سنګر ورکوم

زه په پښتو او پښتنوالۍ باندې سر ورکوم

په وينو رنګ وژلی خوښ يم خو غلام به نه شم

زما ارواح په ابتدا کې دا منلي نه دی

زه د وطن دښمن ته هيڅ لاس په سلام به نه شم

زما نيکونو هر ګز تيټ چا ته کتلي نه دي

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library

له ما یې بل څوک ولې واخلي حقیقت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

همت لرم بې همت نه یم خو نزاع نه غواړم

شور په دنیا نه غواړم

جګړه نه غواړم په دنیا کې امنیت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

زلمیانو واورئ فریادونه د دردمن ملنګ جان

د لوغړن ملنګ جان

پښتنو تاسو نه یوالی او وحدت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

(ملنګ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

Greater Afghan Library

(نوی موسم نوی بهار دی)

نوی موسم نوی بهار دی
سینې مې وسپړل گلونه
را نه جدا د مینې یار دی
ځکه مې ځي په مخ رودونه
دا لباسي زلمي به څه کړم
چې ډول یې غیرت یې نه وي
خپل پیغلتوب به پرې ورنه کړم
چې ډول یې وي غیرت یې نه وي
تن مې هغه زلمي نه ځار دی
چې کړي وطن ته خدمتونه
کړې شملې دي ډیرې ډیرې
په چا مې سترگې نه خوږیږي
زما د زړه لالی دی چیرې
په چا مې سترگې نه خوږیږي
په کنډو ناست را ته اغیار دی
ورو ورو کوي اشار تونه

سبا اتبار دی ورله ځمه
د شهیدانو په مزار کې
غنچه د گلو پرې شیندمه
د شهیدانو په مزار کې
د دوی په وطن ایښي سرونه

د غم سرود را ته غږیږي
زه ملنگ جان غم له پیدایم
د غم سندري نه خلاصیږي
زه ملنگ جان غم له پیدایم
زلمیانو لږ همت په کار دی
تنگ کړو د ښځو پیغورونه

(ملنگ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

(څه غواړم؟)

زه په دنیا کې د دنیا نه عدالت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

د خدای د پاره وکړئ غور مسلمان پښتون یم

کلک با ایمان پښتون یم

دا گناه نه ده چې خپل ملک او شریعت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

د بل بارونه په دنیا کې خو ډنگر چلوي

نه چې بشر چلوی

زه ځاروی نه یم پردو پیټو نه نفرت غواړمه

زوی د انسان یم په ریښتیا انسانیت غواړمه

ځمکه د خدای ده په کې برخه هر یو قام لري

هر څوک خپل سام لري

(ملنگ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library

## (ځوانې ښځې )

ځوانې ښځې ته چـــــــې ونه وایې ترور
هغه دم به دې بــرباد کـــــړي پلار او مور
هر سبا به دروازه کــــــې درته ناست وي
چې وانه خلـــــې نادیده ســــــړي نه پور
بې گناه وهل به خوري آزار به یې ستاوي
که دې ورکړه په بدل کې لــــور او خـــــور
کیناستی د هغو وکـــــــړه ملنگ جانه
چې دې سم وي په کنډه ورســــــره زور

**(ملنګ جان)**

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryes
@Greater Afghan Library Group

(ورځ مې شوه)

ورځ مې شوه په انتظــــار شپه په ســـــودا

ورځ کــې هغه ژړوی مـــې شپه کــې دا

لــږ خو وخت د کــــراری زما معلوم کړه

دا خــــو نه کیږي چې تل تـــــــر تل ژړا

ستا په خوښه کـــه ژړیــــږم باري خیر دی

مگـــــر نه د رقیبـــانو په ســـــــــــــلا

ستا په در کې چي غماز تور مخ ښکاره شي

لـــکه څوک چې په مسجــــــد ویني تر سا

ستا په سر باندې ما کور او کلـی پریښود

د مجنون په شاني گـــرځم په صحـــــــــرا

ستا په سر باندې ما ټول اقربـــا پریښول

یه کــــــم بختـــــه ماوره ته د اقــــربا

یاره زه ملنگ جان ستا مینې احتیاج کړم

گنه ما کله احتیاج کاوه د چـــــــــــــا

(ملنگ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryes
@Greater Afghan Library Group

## (زړه مې غواړي)

زړه مې غـــــواړي د گلـــــونو په گلشن کې

لاس دې نه وي د اغـــــیار د یار لمـــــن کې

په ســــرو وینو مې د پلار سره سره گلـــونه

رژل کیــــږي نن په پښـــــــو د زاغ زغنکې

دا اثر د بې ننگــــــــــی نه دی نــــو څه دی

چې کوروال کې شي پردي د پلار مسکن کې

چې ښـــکاره یې درته ووایم پښتـــــــــونه

له دې ژونده پیچیده ښه یې په کفن کـــــې

تاسي راشیئ ما قانع کـــــړئ منصفانو !

کــه خلاف د ملنگ جان وي په سخن کـــې

(ملنګ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryes
@Greater Afghan Library Group

(ما ژړل

ته د ناز په خوب ویـــــده وې مـــا ژړل

ته بې غـــــمه آســــــــوده وې ما ژړل

ستا د مخ او د سپــــوږمۍ مقابــله وه

ته په مخ ترې آزمـــــــوده وې مـــا ژړل

ستا د زلفـــو خوشبويي جور ليونی کړم

ته په عطـــرو کې لمـــــــده وې ما ژړل

ما درخواست د يوې خولـــې درځنې وکړ

را ته ښــــــــکاري آزرده وې مـــا ژړل

وچ بالښت زما په اوښکو باندې لوند شو

ته په ناز کــــــــې پرورده وې مـــا ژړل

دا زمـــا ملنګ جان برخــــــه کړيدل دي

ته لـــه نازه پـــــــرخنده وې مـــا ژړل

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryaj
@Greater Afghan Library Group

(که په حال زما)

کـــــه په حـــــال زما خبر تمام جهان شي

ټول عالـــــم به په فریاد او په سوران شي

لـــکه زه چې داسی زیړ زبیښلـــی ګرځم

هر بشر به داسې زیړ لـــــــکه زعفران شي

زه رټلـــــی معشـــوقو یم نه رغـــــــیږم

کـــــه عالم را ته د څیرمې حکمیان شي

کـــــه څوك ما منع کـــــوي د یار له دره

د ماهي په وچې څــــــه رنګه ګذران شي

تسلـــــــــــی زما د سوي زړګـــــــي داده

یو ځل کـــــله به ښکاره د یار چشمان شي

د یار مخ ته منتـــــــــظر زه ملنګ جان یم

چې زما د خوږ زړګـــــي بوږې درمان شي

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

(یار کرم نه دی)

ما په خپله ځان سیزلی یار کـــــرم نه دی

په خپل لاس مې زړه بایللی یار کــــرم نه دی

ما چې زړه په خپل لاس ورکړ خپل حبیب ته

که یې ساتلی که یې داغلی یار کرم نه دی

د عاشق زړ ه د معشوق د لاس منــــه ده

که یې بوی کړي که خولې یار کرم نه دی

هر عاشق د معشوقــــــــود در غلام وي

که یې شړلی که یې بللی یار کـــرم نه دی

لکه مار هسي په ما یې گوزار وکـــــړ

ما په خپله مار ساتلی یار کرم نه دی

یار کرم نه دی یار کرم نه دی ملنگ جانه

چې تا نه وً پیژندلـــی یار کـــــــرم نه دی

(ملنګ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryes
@Greater Afghan Library Group

(وطن جوړوو)

موږ پښتانه یو ســــــازو باز د خپل وطن جوړو

کلي په کلي کور په کور ښکلــــــی گلشن جوړو

دغه وطن موږ ته د پلار نیکــــه میراث پاتې دی

سرونه خپل پرې ورکـــوو تری نه چمن جوړوو

دغه وطن زمونږ او ستاســـي معشوقه ده ورونو

راځی چـــی خپله معشوقه ښه په فیشن جوړوو

موږ یو زلمیـــــــان د پښتنو دا اتفاق دی زموږ

خپل د وطن په نام و ننگ خاورې خپل تن جوړوو

هغه دښمن چې کـــوږ نظر کـــوي زموږ هیواد ته

ټوټې ټوټې زرې زرې هغه دښمــــــــــــن جوړوو

زه ملنگ جان که قربانـــــــــي شومه په لار د وطن

یمه خوشحال ځان ته د سرو زرو کفـــن جـــوړوو

(ملنگ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

## (ملنګ شم)

زه چې راخلـمه کچکول او ستـــا ملنګ شم

نو هغه ساعت به تیر تـــــــر نام و ننګ  شم

نام و ننګ به وي هغـــــــه ځای را نه  پاتې

په کوم ځای کې چې زه ستا په تومت رنګ شم

پروا نشته که دنیا را پوري خــــــــــاندي

ماشــــــوم نه یم چې نور و خاندې زه تنګ شم

ستا په عشق کې که ستـــــی شمه په اور کې

فخر کـــــــــاندم که زه یاد لکه پتنګ شم

ما چې عزم ستا د سپین رخسار دی کـــړی

وا به نه وړم که په وینو کـــې رنګ رنګ شم

په شا تلـل د مـــیړنیــــو بد نامـــــي ده

اوس به زه ملنګ جان څرنکه په څنګ شـــم

(ملنګ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

Greater Afghan Library

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Libraryy
@Greater Afghan Library Group

( تو لعنت په هغه چا شه)

تو لعنت په هغه چـــا شه چې په قام ســـوداګـــري کا

د پنځوپیســـودپاره د اغیـــــارو نوکـــــري کا

بله نشته هســــــي لـــويه مرتبه لـــــــه آزادۍ نه

چې مې واك د بل په لاس وي په دې څه که افســـري کا

خدايه هسی زوی لوی نه کړې د پښتنتون په کورنۍ کې

چې له ننګـــــه بـــې خبر وي او دښمن پـــرې باداري کا

هغه سر به بختور وي چـــې د قام مخکــــې شي خاورې

ځکه کام يې پس له مــــــرګه په مزار جمـــــع اوري کا

قربانيږه ملنګ جانه د هغـــو خلکــــــــــو له زړونه

چې د قام له مينې ډک وي د هيواد خپل غمخوري کا

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

(هغه څوك چې وي پښتون)

هغه څوك چې وي پښتون دورنگـــي نه كا

حقيقـــــت دی باز د زاغ همـــــــــرنگي نه كا

كـــــه اوبو په ځای شوده، د غوښې كوچ خوري

خسكي چرگ به ځان چرگ كولنگی نه كا

چې د ننگ تی يې رودلـــی وي لـــه مـــــوره

هغه زوی به هيڅ كـــــله بـــــې ننگـــي نه كا

كـــــــه په سرېې درنـــوتـــــورو باران وي

هغه زړه چې دپښتون وي تنگـــــــــي نه كا

ملنگ جان د آزادۍ د لار مـــــــلنـــگ دی

دريالـــــــــه پاره هيڅ مـــــــلنگي نه كا

(ملنگ جان)

مسلمانانو اتفاق او اتحادوكړي

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group

(چی بې ننګ او بې پښتو وي)

چې بې ننګ او بې پښتو وي پښتون نه دی

چې د قوم په شرمیدو وي پښتون نه دی

پښتون هغه دی چې غم د تمام قــوم خوري

چې د ځان په جګیدو وي پښـتون نه دی

د پښتون نظر مـــــدام په ننګ و نام وي

چې نظرېې په پیسو وي پښتـــون نه دی

پښتون هرکـــــله طالب د خپل شرف دی

چې طالب د سپینو سرو وي پښتون نه دی

پښتون تل په خپله ژبه ټینـــک ولاړ وي

چې په دروغ یې ګفتګو وي پښتون نه دی

پښتون نشـــي باداري دچــــامنـــلـــی

چې اختیار یـې د پردو وي پښتون نه دی

په نصیب د ملنګ جان دغه مســرې شوې

چې خپه په دې مســرو وي پښتون نه دی

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

(څه ملامت دي)

مشران چې گوندیمار شي نو کشران څه ملامت
دي

سپین ږیري چې نا اهل شي هلکان څه
ملامت دي

د پوهو وعالمانو په منځوکې چې
نفاق وي

ناپوهه بېسواده شودهگان څه
لامت دي

چې زړه د ناصحانو وي ډک شوی له
حسد نه

وینا کې تاثیر نه وی سامعان څه
ملامت دي

کوښښ چې یو پښتون دبل پښتون د بري
نه کا

په دې کار کې پردي او گاوندیان څه
ملامت دي

بیناخلك چې مخ شي د نفاق په
گړنگونو

گیله وکړم له چا نه حافظان څه
ملامت دي

ریښتني پښتانه لوی خادمان اوسلیم
زړونه

دا ټول چې یو شان نه وي ملنگان څه
ملامت دي

ریښتیا وینا دې وکړه خدای دې خیر کړي ملنگ
جانه

که هر څه درته پیښ شوو ستا یاران څه
ملامت دي ؟

Greater Afghan
Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater Afghan Library Group

## (نه پوهیږم)

نه پوهیږم چې زه یار یم که اغیار یم
په عالم کې لیونی یم که هوښیار یم

که هزار د صداقت بنیاد قایم کړم
په میدان د نمایش کې خیانتکار یم

نه د چاځنې څه غواړم نه څه وایم
پر ناحق د یو او بل زیر فشار یم

که څوك ما نیسي په رسم او په رواج کې
زه له عشق ه هومره کله لا وزګار یم

خدای د مینې په ریاست کې ملازم کړم
کار تقدیر کړي نو زه څله ګنهګار یم

د تقدیر په رسۍ بند زه ملنګ جان یم
نه مجنون، نه لیونی او نه باد ساریم

(ملنګ جان)

**مسلمانانو اتفاق او اتحاد وکړي**

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library
@Greater Afghan Library Group